مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور اخګر
۲۰۲۶/۰۲/ ۰۴

# د یهودو عادلانه جګړې

## (یوسل او دوه وېشتمه برخه)

**له اسراییلو، د امریکایانو د ملاتړ دلایل**

ومو لوستل چې ډېری امریکایي سیاستوال او چارواکي د یهودو او یهودپلوو (لابي) ډلوټپلو لهخوا اړ او تلقین شوي دي چې باید له اسراییلو ملاتړ وکړي خو کله چې امریکایان د خپل دغه ناوړه ملاتړ لپاره یو دلیل وړاندې کوي نو په منځني ختیځ کې د اسراییلو د ستراتیژیک اهمیت د ادعاګانو سربېره ځو دوله اخلاقي دلایل مخکې کوي، د دغو توجیهاتو په اړه دوه تنه امریکایي سیاستوال او پوهان جان. جی. میرشایمر او استیون.ایم. والت په خپل ګډ اثر کې وایي چې داسراییلو د ستراتیژیک اهمیت له ادعاګانو پرته، د دغه هېواد پلویان دا هم وایي چې له اسراییلو څخه باید د امریکا متحده ایالات نامحدوده او په یو اړخیزه توګه ملاتړ وشي، **لومړی، دا چې، اسراییل یو کمزوری هېواد دی چې د دښمنانو له خوا محاصره شوی دی.**
**دویم: دغه هېواد یو ډیموکراتیک حکومتي نظام لري... .**
**درېیم: یهودان په تېر کې له سختو ظلمونو او جنایتونو سره مخ شوي نو ځکه د ځانګړي چلند مستحق دي او دا هم زیاتوي چې د اسراییلو چلند [جګړې] له اخلاقي پلوه د خپلو دښمنانو له چلنده غوره دی.**
د امریکایانو دا ډول منطق چې د خپل ناروا ملاتړ د رواکولو (توجیه کولو) په موخه یې وړاندې کوي، غواړو د دوی هر یو دلیل وڅېړو ترڅو پوه شو چې رښتیا څه دي؟

**<u>لومړی: د امریکایانو ملاتړ، له اسراییلو څخه، د دوی د کمزوري له امله</u>**

میرشایمر او استیون.ایم. والت وایي چې «اسراییل ډېر ځله د داسې یو کمزوري هېواد په توګه انځورېږي چې د دښمنانو له خوا کلابند شوی هېواد دی. اسراییلي مشران او اسراییلپلوي لیکوالانو دا انځور په ډېر مهارت سره د خلکو په ذهنونو کې پیاوړی کړی دی خو حقیقت تر دې ډېر توپیر لري.»

میرشایمر او والت د اسراییلو او عربو تر منځ د ۱۹۴۷-۱۹۴۹- ۱۹۵۶ او ۱۹۶۷ز. کلونو د جګړو یادونه کړې وایي چې په دې ټولو جګړو کې اسراییل د عربي هېوادونو پر وړاندې ځواکمن وو، «هغه مهال چې د امریکا د متحده ایالاتو پراخې او بېدریغه مرستې لا اسراییلو ته نه وې رسېدلې.

د اسراییلو د دغو پوځي بریاوو څرګندیزي چې د اسراییلو پوځ ښه ورتیا لري او دا هم ښیي چې د اسراییلو هېواد د جوړېدو په لومړیو کلونو کې هم یو بېوسه او ترلی هېواد نه ؤ، **نن ورځ اسراییل په منځني ختیځ کې تر ټولو پیاوړی پوځي ځواک بلل کېږي. د دغه هېواد عادي پوځ د خپلو ګاونډیو هېوادونو په پرتله ډېر ځواکمن دی او اسراییل په سیمه کې یوازینی هېواد دی چې اتومي ورتیا لري.»**

د پورته وینا تر څنګ باید زیاته کړو چې د اسراییلو صهیونستي رژیم له رامنځته کېدو څخه تر نن ورځې پورې د غربیانو (په ځانګړې توګه: د انګرېزانو، فرانسوایانو او د ۱۹۶۷ز. کال جګړې وروسته د امریکایانو مخامخ ملاتړ ورسره ؤ.) چې له امله یې په ټولو جګړو کې اسراییل د عربو پر وړاندې ګټونکي وو او د غربیانو د مرستو او ملاتړ پر بنسټ یو پیاوړي پوځ لري او په سیمه کې یو اتومي ځواک شمېرل کېږي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

## دویم: د اسراییلو له کورنۍ ډیموکراسۍ څخه ملاتړ

له اسراییلو څخه د امریکایانو د ملاتړ بل دلیل دا راوړي چې اسراییل د امریکا په څېر یو ډیموکراتیک هېواد دی، میرشایمر او والت د امریکایانو د دغه دلیل په اړه وایي چې «دا منطق کېدای شي د اسراییلو پلویانو لپاره قانع کوونکی ښکاره شي خو د امریکا د متحده ایالاتو د اوسني پراخ ملاتړ د توجیه کولو لپاره بسنه نه کوي.»
میرشایمر او والت زیاتوي چې «په نړۍ کې ډېر ډیموکراتیک هېوادونه شتون لري چې د امریکا له لوري یې د اسراییلو په څېر په دومره لویه کچه ملاتړ نه کېږي تر دې چې امریکا په تېر کې د خپلو ګټو په موخه ډیموکراتیک حکومتونه نسکور کړي او د دیکتاتوري حکومتونو ملاتړ یې کړی دی. سربېره پر دې، امریکا دا مهال هم له یو شمېر دیکتاتوري هېوادونو سره ښې او نږدې اړیکې لري.»
میرشایمر او والت وړاندې څې لیکي چې **«اسراییل له پیله د یوه یهودي دولت پر بنسټ جوړ شوی او د دې هېواد تابعیت (د قومي - ویني) پر اصل ولاړ دی. د تابعیت پر همدې بنسټ، د حیرانتیا ځای نه دی چې شاوخوا ۱/۳ میلیونه عرب چې په اسراییلو کې ژوند کوي، دویمه درجه وګړي بلل کېږي.**
میرشایمر او والت په خپله ګډه رساله کې لیکي:«هغو فلسطینیانو ته چې له اسراییلي وګړو سره ودونه کوي د اسراییلو تابعیت نه ورکول کېږي او په اسراییلي خاوره کې د استوګنې اجازه هم نه لري. په میلیونونو فلسطیني وګړي چې د اسراییلو تر اشغال لاندې ځمکو کې ژوند کوي له هر ډول سیاسي حقونو محروم دي... چې د اسراییلو دا ډول قوانین د امریکا له ډیموکراسۍ سره سمون نه لري.»[1]

دا خو پر خپل ځای پرېږده چې اسراییل غیریهودانو ته د پردیو او دښمنانو په نظر ګوري خو هغه عرب‌توکمه (دروزي) مذهبه وګړي چې د اسراییلي پوځیانو سره متېپمټ د مسلمانانو او عربانو پر وړاندې جګړې کوي او ځانونه وژني، هغه ډول حقونه نه ورکول کېږي لکه څرنګه چې اسراییلي پوځیان ترې برخمن دي. دروزیان په دې خبره اعتراف کوي او په یوه خوله وایي چې **«موږ د جلیلیه او کارمل په سیمو کې په دیارلسو ښارونو او کلیو کې اوسېږو او موږ خپلې ټولې راسپارل شوې دندې په ښه توګه ترسره کوو خو له مساوي حقونو څخه برخمن نه یو.»**[2]
لنډه دا چې د اسراییلي صهیونستانو رژیم د غیریهودانو پر وړاندې له آره په تعصب او استبداد ولاړ یو رژیم دی، نه یو ډیموکراتیک نظام.

## درېیم: دا چې یهودان په تېر کې له سختو ظلمونو او ځورونو سره مخ شوي نو ځکه د ځانګړي ملاتړ او چلند حق لري

دا ربښتیا ده چې یهودان په خپل ټول تاریخ کې تر ډېره له سختو سزاګانو سره مخ شوي دي خو دا سزاګانې ولې اسراییلو ته د غیریهودانو لهخوا ورکړل شوي دي؟ پوهېږو چې **(هر عمل عکس‌عمل لري.)** یهودانو چې له آره یې د خپل دین پر بې‌شمېره خرافاتو ایمان درلود، په ځانګړې توګه په دې خرافي فکر وو چې دوی د نورو قومونو په پرتله **(د خدای غوره قوم) دی او نور خلک یې له ځارویو سره برابر کړي وو** نو په غبرګون کې د غیریهودي قومونو لهخوا هر ډول سزاګانې ورکړل شوي دي، تر دې چې د هولوکاسټ سزاګانې هم د دوی د خپلو ناوړه کړنو او کړوهي پایله وه.

له بلې خوا د هولوکاسټ سزاګانې (د دوی د دیني کتابونو پر بنسټ) د یهودو د ځانګړي خدای (یهوه) لهخوا ورکړل شوې دي چې د دغو سزاګانو مسؤلیت د اسراییلو د خیالي او قومي خدای یهوه په غاړه دی نه د ادولف هیټلر او نه د بل چا په غاړه، د یهودو په باور، هیټلر یوازې د دوی د خدای یهوه په لاس کې یوه وسیله وه چې خپل غوره شوی او نازولي قوم ته یې سزا پرې ورکوله.[3]

که د اسراییلو له دغې دیني څرګندونو تېر شو چې وایي (یهوه خدای خپل قوم ته سزاګانې ورکړي) او مسؤلیت د جرمني د نازیانو پر غاړه واچوو، دا څه ډول انصاف دی چې وژلي غربیانو دي او غچ یې له فلسطینیانو او عربانو اخیستل کېږي؟ په داسې حال کې چې د هولوکاسټ پر مهال او له هغې وړاندې همدغو عربو او مسلمانانو یهودان په خپله غېږه کې ساتلي او پناه یې ورکړې وه.

---

[1]: لیکوالان: جان. جی. میرشایمر او استیون.ایم. والت: لابی اسرایيل وسیاست خارجی ایالات متحده. فارسي ژباړه: لطف الله میثمی.
[2]: د ډېرو مالوماتو لپاره ولولئ د لیکنو ۸۲یمه برخه.
[3]: په دې اړه د لیکنو ۶۵مه برخه ولولئ.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنېزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليرلو مخکې په خير و لولئ

میرشایمر او والت لیکي:« په اروپا کې د یهودانو پر وړاندې ترسره شوي جرمونه د اسراییلو [د دولت] د موجودیت لپاره یو څرګند اخلاقي دلیل برابروي چې د اسراییلو په پاتې کېدو کې هېڅ ډول شک نه رامنځته کېږي. تر دې که ځینې اسلامي سختدریځې ډلې بېځایه او غیرواقعي خبرې کوي چې (اسراییل باید له نقشې پاک شي.) د یهودي ملت ځوروونکی تاریخ، **د متحده ایالاتو لپاره دا مکلفیت نه رامنځ ته کوي چې د اسراییلو اوسنی کړنو ته دې پام ونه شي او له دې هېواد څخه دې هر ډول ملاتړ وکړي.»**[4]

د امریکایانو دا ډول دلیل چې ګواکې پېړۍ، پېړۍ وړاندې غربیانو له یهودانو سره ظلمونه کړي نو اوس‌مهال دې په فلسطین کې د اسراییلو له هر ډول وحشي جنایتونو ملاتړ وشي. یو ناانساني او له بشریت سره خاینانه عمل دی چې هېڅ یو روغ انسان یې نه شي منلی.

**څلورم: د اسراییلو چلند له اخلاقي پلوه د خپلو دښمنانو له چلنده غوره دی.**

امریکایان بل دلیل دا وایي چې د اسراییلو جګړه‌ییز چلند د خپلو دښمنانو (فلسطینیانو) له کړنو غوره دی. د دوی دا ډول څرګندونې، د حماس او اسراییلو د ۲۰۲۳ز. کال د اکتوبر له جګړې وړاندې شوي وې چې هغه مهال هم د اسراییلو جګړې د فلسطینیانو پر وړاندې خورا ظالمانه او ترهګرې جګړې وې، که د فلسطین د آزادۍغوښتونکو بریدونه ترهګر بریدونه بلل کېدل نو د اسراییلي پوځیانو بریدونه بیا دولتي ترهګر بریدونه وو چې د فلسطینیانو لپاره یې د اسراییلو د مرګ ژوبلې په پرتله څو ځله ډېر زیانونه اړول.

تخمیني اټکلونه ښیي چې د اسراییلو له جوړېدو ۱۹۴۸تر۲۰۲۲ز. کال پورې له اسراییلو سره په جګړو کې شاوخوا ۶۰۰۰ تنه فلسطینیان او ۳۰۰ تنه اسراییل وژل شوي دي **چې د یو وژل شوي اسراییلي په سر ۲۰ تنه فلسطینیان وژل شوي دي.**

د ۱۹۴۸ز. کال څخه مخکې کله چې اسراییلو رژیم لا نه وُ رامنځ ته شوی او د فلسطین ځمکه د انګرېزانو په ولکه کې وه او یهودان د ننني فلسطینیانو په موقف کې وو نو اسراییلي ډلوټپلو د نن ورځې وسله‌والو فلسطینیانو په څېر، پر انګرېزي اشغالګرو ځواکونو بریدونه کول چې د اسراییلو هغه بریدونه ترهګریز بریدونه بلل کېدل خو نن چې فلسطیني آزادي‌غوښتونکي سرتېري پر اسراییلي اشغالګرو ځواکونو بریدونه کوي ترهګرې حملې بلل کېږي، په دې هکله میرشایمر او والت وایي چې »که نن د فلسطینیانو له لوري د ترهګرۍ کارول له اخلاقي پلوه د غندنې وړ وي نو د اسراییلو تېر ترهګریز عملیات هم همدومره د غندنې وړ دي. **له دې امله، د امریکا له خوا د اسراییلو ملاتړ په دې پلمه نه شي توجیه کېدای چې ګواکې د اسراییلو چلند د فلسطینیانو له چلنده لوړ اخلاقي مقام لري. په دې توګه، د امریکا لهخوا د اسراییلو ملاتړ، نه د ستراتیژیکو ګټو پر بنسټ توجیه کېدای شي او نه هم د اخلاقي استدلالونو له مخې. نو د دې ملاتړ اصلي دلیل څه دی؟ د دې پوښتنې ځواب د اسراییلي لابۍ په بې‌ساري او پیاوړي نفوذ کې نغښتی دی.**[5]

میرشایمر او والت لیکي چې »د موضوع ژوره او کره څېړنه ښيي چې د امریکا له دغو استدلالونو څخه هېڅ یو هم قانع کوونکی نه دی... **که موضوع ته له بېړې زاویې وکتل شي، د اسراییلو تېر او اوسنی چلند د دې سبب نه کېږي چې دغه د اسراییلو هېواد ته د فلسطیني ولس پر وړاندې کومه اخلاقي برتري ورکړل شي.**[6]

سربېره پر دې، د اسراییلي صهیونستي ځواکونو هغه جګړه چې د ۲۰۲۳ز. کال د اکتوبر په میاشت کې د حماس، حزب‌الله او بې‌وسلې فلسطینیانو پر وړاندې ترسره شوه (او لا همداسې روانه ده) په غوڅه توګه ترهګریزه جګړه ده چې د نړۍ ډېرو هېوادونو او وګړو د اسراییلي دولتي ترهګر پوځ پر وړاندې د مخالفت ناري پورته کړې او په خپله په امریکا کې هم ډېرو امریکایانو پر اسراییلو نیوکې وکړې او له اسراییلو یې سخته کرکه ښکاره کړه.

---

[4]: لیکوالان: جان. جی. میرشایمر او استیون.اېم. والت: لابی اسرایيل وسیاست خارجی ایالات متحده. فارسي ژباړه: لطف الله میثمی. ۱۶مخ.

[5]: لیکوالان: جان. جی. میرشایمر او استیون.اېم. والت: لابی اسرایيل وسیاست خارجی ایالات متحده. فارسي ژباړه: لطف الله میثمی.

[6]: هماغه سرچینه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنېز بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

د ۲۰۲۳ز. کال د اکتوبر د ۷مې نېټې په جګړه کې تر اوسه، د (۲۰۲۶ز) کال پورې د حماس ډلې لهخوا شاوخوا ۱۲۰۰ تنه اسراییلي وګړي وژل شوي چې په غبرګون کې د اسراییلو په غچاخیستونکو بریدونو کې له ۷۱زرو ډېر فلسطینیان وژل شوي دي[7] **چې په دې حساب، د هر یو تن اسراییلي وګړي په بدل کې، اسراییلو نږدې ۶۰ تنه فلسطینان وژلي دي، دا ځکه چې اسراییل یوازې یهودان انسانان بولي او نور غیریهودان ځارويډوله انسانان دي چې د اسراییلو لپاره د دوی وژل د ځارویو او ځناورو حیثیت لري!**[8]

پوهیږو چې نړیوال د جګړې ځانګړي قوانین او کړنلارې لري خو د اسراییلي صهیونستانو جګړې د نړیوالو جګړهییزو تړونونو پر خلاف ترسره کیږي، اسراییل د فلسطینیانو (غیریهودانو) پر وړاندې خپلې جګړې د خپلو دیني خرافاتو پر بنسټ کوي، د دوی ټولې جګړې په یوه غوښه او پرېکنده فتوا کې نغښتې دي، د یهودو د (تلمود) د فتوا پر بنسټ، ټول غیریهودان ماران دي او د مارانو هغه ښه یې هم باید ووژل شي:**«د غیریهودانو هغه ښه یې هم ووژنه؛ باید د ښه مار ماغزه هم وپاشل شي.»**
**«د جګړې پر مهال د دوی وژل (اجباري او واجب) دي... .»**[9]

په دې توګه ویلی شو چې د امریکایانو دا دلایل چې ګواکې د اسراییلو جګړې د فلسطینیانو په پرتله عادلانه او اخلاقي دي، خوشې یو بېمنطقه او احمقانه خبرې دي ځکه چې فلسطینیان د خپلې آزادۍ لپاره جګړې کوي خو اسراییل د فلسطینیانو د ځمکو، کورونو او شتمنیو د غصبولو په موخه جګړې کوي چې نه خو د ملګرو ملتونو پرېکړو ته درناوی لري او نه هم انساني کرامت ته.

نېټه:۱۴۰۴/۱۱/۱۵ل. ل

د ښاغلي محمد انور اخړ نوري لیکنې په دې لینک کې ولولئ.

---

[7]:https://www.bbc.com/pashto/articles/c9dv8vx592eo

[8] : د لا زیاتو مالوماتو لپاره ولولئ د لیکنو، ۱۶مه برخه.

[9]: د ډېرو مالوماتو لپاره د لیکنو (ځانګړې برخه) ولولئ.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ